# لَا يَمُوتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ بِاللهِ الظَّنَّ». «په تاسو کې دې هېڅوک مرګ نه راځي، مګر په داسې حال کې چې په الله ښه ګمان ولري

له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې د هغه د مرګ نه درې ورځې مخکې اوریدلي چې ویيل یې: «لَا يَمُوتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ بِاللهِ الظَّنَّ». «په تاسو کې دې هېڅوک مرګ نه راځي، مګر په داسې حال کې چې په الله ښه ګمان ولري».
[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمان دې ته هڅوي چې هغه دې نه مري مګر په داسې حال کې چې په الله ښه ګمان ولري، داسې چې د ځنکدن پر مهال پرې د هیله مند اړخ غالب وي چې الله تعالی به پرې رحم کوي او بخښي به یې، ځکه چې د عمل د ښه والي لپاره ویره اړینه ده، او هغه چې کوم حالت دی (ځنکدن) هغه د عملونو حالت نه دی، نو باید چې د هیله مند اړخ یکې غالب وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3779